ولی محمد نورزی ۲۰۱۰/۱۰/۱۷م

# اسلام، سوله،(صلح) او جرگه د سیاست په ډ گرکی

زمونږ په گران هیواد افغانستان کی د ځلوینتو کلنو را په دی خواه د اسلام، سولی او جرگی چیغي او ناری ډیری گرمی او تودی دی. ددولت د سیاسی ستو د واک او قدرت د ټینگولو اوبقا لپاره ټولو واکدارانو ددغو دریو پاکو کلموڅخه ډیر کاراخیستي دي. مونږ ټوله ددی دورو عینی شا هدان یوو چه د تیرو ځلوینتو کلنو په جریان کی نا کامه او بی کفایتو دولتی چاراواکو د خلکو پاک احساسات د خپلوکرغیرنو او نا وړو کټو لپاره د جرگی، سولی، اود اسلام د نامه څخه کار اخیستی دی. او دا وسیله یي خپل هدف گرځولی ده. ولی دا لړی او سلسله لاتراوسه پوری روانه ده، چه څرنگه او په څه چل خپله نا پاکه اراده پر خلکو باندی تحمیل کړی او په خپله د خپلی خو ښی حکو مت وکړی نو راځی چه دا دری واړی پاکی او سپیڅلی کلیمی لږ څه توضیح او تشریح کړو:

۱: اسلام، اسلام د نړی د ټولو مسلمانانو هغه پاک او سپیڅلی دین دي چه دسولی او روغی جوړی، ملی یووالی او وحدت، همکاری او کومک، صداقت اوراستي، سعادت او نیک بختي، عدالت او ریښتنولی او هم دارنگه دټولو مسلمانانو وړونو تر منځ ددوستی او ورورگلوی فضا منځ ته راوړی. او سربیره پردی په اسلام کی د ټولو مسلما نانو وړونو د ستونځو او مشکلاتو په وخت کی د غوره او پوره مکملو اسلامی او شرعی قوانینو په چو کاټ کی ور ته بیلا بیل هدایتونه او توضیحات راغلی دی، چه د هر مسلمان ورور لپاره د ټولوچارو د حقوقی او شرعیتی رعایتونو قوانین په ښه توگه تضمین شوی دي او د هر مسلمان ورور د منلو وړ دی.

۲: سوله، سوله دژوند هغه ښکلا ده چه انسان د جهل او غفلت له حالت څخه د روښنایي لوری ته بیايي او د خلکود ملتونو دامیدونو او هیلو ډیوی بلی ساتی. سوله د ټولی نړی د بشری قا نونیت د حقوقو د ښه تضمین سمبول او زیری دی. چه د انسانی ژوند د ټولو چارو یعنی د نژاد، تبعیض، کرکی، نفرت او دجگړو د ختمولو ارمان او الهام پکښی نغښتي دي. د سولی د طبعیت ښکلا او ځلاند د قو مونو او اولسونو د وفاداری او نیک مرغی سمون ته لاره پرانیزی. او دژړا اوسلگیو ناوړی او ویرجنی حا لت ته د خندا او خوشالی هیلی ور بخښي. نو ځکه سوله ټول انسا نان غواړی، او د جنگ او جگړو کرغیرن ناورین حا لت ته د پای ټکی ږدی. په دی هکله سوله د انسا نانو د اجتاعی چا پیریال د ژوندون یوه ښه بیلگه ده او د خوشالیو او نیک مرغیو زیر مه ده.

احمد شاه بابا په دی هکله داسی وايي:

ځان به وینښ کړو هری خوا ته، هری خواته ر قیبان دي .
یو په بل می سره وژنی وایو خپل یوو، غلیمان دي

۳: جرگی او مشوری د افغا نانو په منځکی یو معمولی پخوانی دود دی. چه د قومونو او قبیلو په منځ کی د جنگ او جگړی په وخت کی خپلی شخړی او ستونځي د جرگي او مشوری له لاری حلیږی. څرنگه چه مونږ وینو په کلیو باندو ولسوالیو اوولا یتو کی چه کله یو قوم دبل قوم یا یوه کورني د بلی کورني په مقا بل کی مدعا او دښمنی لری نو دکلی مشران او سپین ږیری په یوه ځای کی سره را ټولیږی او ددی مدعا او دښمنی دورکولو او له منځه وړلو لپاره فیصلی کوی. په جرگه کی د دواړو خواوو استازی او نما ینده گان حضور لری. د جرگی پریکړی د دواړو متقابلو لخوا منل کیږی. او ددی ناوړی پیښی حل و فصل ته د مشرانود فیصلو پریکړه اعلانیږی، چه بیاد ټولو د قبول وړ گرځي. ولی دجرگی استازی د هیچا په طرف یوه اړخیزه او بی ځایه پریکړی نه کوی، بلکه دشخړو او ستنځو د واقیعی بند او بست چاری د وجدان د حقیقی قضاوت پر بنیاد و دواړو خواووته په ډاگه اعلانوی او متقابلی خواوی هغه بیا په عمل کی پلي کوی.

ددغو پور تنیو دریو وسیلوڅخه دنن او پرون د واک او قدرت تږی خود خوا او جا ه طلبه چا رواکي داسی گټی اخلی، چه دخلکو ملا تړ په همدغه لاره کی یعنی چه د اسلام سولی او جرگی نوم په کښی ذکر شوی وی خپل هدف لاسته راوړي. دوی تر بل هرچا دعدالت سولی جرگی او اسلام ناری او چیغی وهی او خپلی ناوړی کړنی او آرزوگانی د زور، جبر، ظلم او پیسو په کومک سره د خلکو د روا حق څخه د نا روا حق د استفادی په توگه مختلفی لاری چاری پکار اچوی او ددی هدف لپاره هیڅ زړه سوی او خواخوږی نلری او د هیچا پروا هم نه لری ولو که دا کار ددوی د سر په زیان هم تما مه شی.

دا چار واکی په سپینه او رڼا ورځ د خپلو شخصی گټو لپاره کله کله لویه جرگه، د سیمی د امن جرگه، د ملی پخلاینی جبهه، او د سولی د امن شورا او داسی نوری جرگی داسی دایریوی چه د خلکو د اصلی استازو د گډون نه پرته منځ ته راځی، او دوی خپلی روانی تبلیغوی چاری داسی تنظمیوی چه ددوی ښکیلی او گټی پکښی نغښتی وی. او خلکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ته وايي چه ګواه کی مونږ دا ټوله په ریښتیا هم ستاسو لپا ره غواړو او دا دخلکو ملی ارمان او پیغام دی. مګر مونږ ستاسو اصلی او واقیعی خد مت ګاران یوو. .
ولی په اصل کی ددغو جرګو ټول غړی ددولت لوړپوری چارواکی، د خلکو تش په نا مه بی هویته متنفذین او ملا یان، د جهاد په نا مه د افغانانو د درو لسیزو توپک سالاران او جنګ سالا ران، په غرب کی میشت فاسد بیروکراتان او دهیواد په کچه خونخوار او نا اهله ملکان او بی پته مشران تشکیلوی. چه ددوی په وجود کی دا سپیڅلی ارمان هیڅ کله او هیڅ وخت دعمل ډګر ته نه رسیږی او د سولی د کاروان دا پا کی هیلی نشی راتلای ولی لکه یو متل چه وایي: چه کوږ بار تر منزله نه رسیږی. مګر ددوی دقدرت واګی به نوری هم په نا وړه او نا جایزه توګه د خلکو تش په نا مه محکمی اوټینګیږی.
دغه بی هویته او بی پته مشرانو زمونږ د ګران هیواد پلازمینه کابل دومره ویجاړاو دړی وړی کړ چه زمونږ تا ریخ یي په دووسوو کلنو ساری نلری. دوی اول د پاک اسلام په نامه په خپلو کی پر یوولسو تش اسلامی ډلو ټپلو وویشل شول او بیا وروسته هر یوه د خپل بقا او پا یښت لپاره په خپلو کی د جنګ او جګړی د خرپ ناورین او نا تار پیل کړ. دغه دوطن دښمنا نانو په څلورو او پنځو کلنو کی د هیواد د بیت المال ټوله شتمنی لوټ کړه، د افغا نستان څو کلنه اردو او دفا عی سیستم یي دړی وړی کړی، د هیواد د کلنو کلنو دفاعی شتنمی ذخیری لکه: جنګی ټانګونه، جنګی او څر خی الوتکی په زرګونو نور دفاعی مرمی جنګی او ترانسپورتي وسیلی چه د هیواد ددفاع د عزت او پت او ځمکنی تمامیت د ژغورولو لپاره پخوانیو دولتی واکدارانو د مختلفو هیوادو څخه پلورلی وی، او هم دارنګه دفاعی پر سونل چه په مسلکی هوایي او زمینی زده کړو سمبال وو. د ظا بط څخه بیا تر ستر جنرالی پوری ټولو د هیواد په کچه ددفاع وتلی مسلکی کار پوهان د لويي تجربی خاوندان او زړه ور سپاهیان چه په هیواد که دننه او بهر یي لوړی مسلکی زده کړی کړی وی داسی له منځه یوو وړ. چه تر نن ورځی پوری ددغو ټولو وسیلو او دفاعی مسلکی پر سونل نښی او نښانی نه لیدل کیږی. زروی درنی وسلی اوجنګی مهیمات یي ټوله د ګاو نډیو هیوادو په شخصی پانګوالو باندی خرڅ کړل مګر نن همدغه څیری د هیواد په داخلی ساختمان او جوړښت وی کی ستر رول لری.
دوی دپارلمان اکثره څوکی، ددولت د اجرائیه، مقننه او قضا یي قواوو په لوړ پوړو څوکیو او هم دارنګه د ولایت او علاقی تر سطحی پوری يي ټولی دولتی کړی په خپل واک او قبضه کی نیولی دی. دوی زیا تره غیر مسلکی، غیر تعلیمی او د تحصیل د کچی ټیټ کسان دی چه په دولتی او حکومتی چاروکی هیڅ تجربه او سا بقه نه لری.
نو دا سیاسی څټی د هیواد د سولی او جوړی بند او بست ته هیڅکله خو شحاله نه دی. ځکه دوی په خپله تر پوښتنی او تحقیق لاندی دی چه د خپلو کړونو او ناوړو عملونو ته ځواب ووایي او د قضاوت او عدالت حساب او کتاب ته غاړه کښیږدی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ